# هوپو تعلیمي کیسی

## بې نومه هلک

## کاغذي پاکټونو نانځکه



پر لاس د خلتی/ پاکټ راکاږلو سره، د نانځکې خوله وخوځوئ.



**مواد چي اړتیا به ورته ولرئ:**

غرمی ډوډئ اندازه کاغذي پاکټ، رنګه پنسلونه، کرایون (د موم رنګی)، مارکر، ځلیښ، نښلوونکي خپروونکی، رنګه جوړښتي کاغذ یا کارتونه، سکاش ټیپ، کیچی، سټیپلر، د میزونو لپاره اخبار.

**اختیاري:** کاغذي دستمال، راتاوونکی کاغذ، د سودا پخوانئ خلتی، پایپونو پاکوونکي، تاوونکی، مری (مشکنۍ)، تنۍ، د ټوټو چنډۍ، د ویښتو لپاره تارونه، پلاستیکي سترګی، او نور



۱. د پاکټ (خولې بندوونکي) رپاندي پوښ په اندازه کارت یا جوړښتي پاڼه راواخلئ، د بې نومه مخ پاسنئ برخه (سترګی، غوږونه، غومبوري/ اننګئ او پوزه) رنګه کړئ. یا، پر پلاستیکي سترګو، رنګه کاغذي سترګو او غومبوري او نورو یې ځلیښ کړئ. مخ راپرې کړئ. (*اختیاري:* غوږونه بیل رسم او پرې او د سر ټوټی شا ته یې ځلیښ کړئ).

۲. **د ویښتو او خولئ لپاره:** بله رنګه جوړښتي (کاغذ) پاڼه خوښه کړئ، د هغه ویښته په نښه، پرې او مخ دپاسه یې ځلیښ کړئ. یا د تار یا لمځئ کوچنئ ټوټی پرې او د مخ ټوټی دپاسه یې ځلیښ کړئ. د رنګولو او خولئ پریکولو پر مهال سر یو لور ته کیږدئ. دا باوري کړئ چې خولئ د سر ټوټی پاسنئ برخی پټولو لپاره په کافي اندازه لویه وي. خولئ د ویښتو دپاسه ځلیښ یا سټیپلر کړئ. **اختیاري د خولئ لپاره:** د ټوټې چنډۍ (ټوټې) ځلیښ کړئ، پر رسامئ یې سینګار کړئ، د رنګه جوړښتي پاڼې (کاغذ) ټوټی رنګه یا ځلیښ کړئ.
سره ژبه رسامي او راپرې کړئ، او (پاکټ خولی) بندوونکي رپاندي کاغذ لاندې یې ځلیښ کړئ (پاسنئ رسامئ ته وګورئ).

۳. د بې نومه جامو او تنی لپاره: د جوړښتي کاغذ، تاوونکي کاغذ، سودا زړو خلتو پر کارولو کمیس د لستوڼو په شمول رسم او پرې کړئ. باوري کړئ چې کمیس د کاغذي خلتی ۲/۳ برخی په اندازه اورد وي. د کاغذي پاکټ اوږدوالي په نیمه پرتوګ رسم او پرې کړئ. که خوښه مو وي ټوټی رنګه یا سینګار کړئ. **د سینې لپاره:** اړخونه یې رسامي او پرې کړئ، او د جوړښتي کاغذ ټوټو، فیتی پر ځلیښولو یا رسامیو یې سینګار کړئ. **لاسونه/ بوټان:** د رنګه جوړښتي کاغذ یا سپین هنري کاغذ او خوښې سره سم، پر رنګه کولو یې لاسونه او بوټان رسامي او پرې کړئ. لاسونه د کمیس لستوڼو شاته ځلیښ کړئ، بوټان د پرتوګ پښو شاته ځلیښ کړئ.



د نانځکو او توکو په اړه نورو مفکورو لپاره، راتلونکی پاڼه وګورئ.

**تنی جوړښت:** پرتوګ/ بوټ ټوټی د کاغذي پاکټ مخې ته ځلیښ کړئ، تر څو بوټان د پاکټ پرانیستنی (مخی) څخه غځیدلی وي. د سینې ټوټی د کمیس پر ځای ځلیښ کړئ (رسامي وګورئ). کمیس/ لاسونه/ سینی ټوټی د پرتوګونو دپاسه او د پاکټ رپانده کاغذ لاندی ځلیښ کړئ، (پام مو وي چې سره ژبه پټه نه کړئ).

۴. سر/ خولئ ټوټه د کاغذي پاکټ (خلتی) رپانده کاغذ دپاسه ځلیښ کړئ. له استعماله وړاندی نانځکه پریږدئ چې وچه شي.

### د نانځکو ډرامی/ تیاتر نظرونه/ مفکوری

- پر میز سرمیزي یا ټوټه واچوئ او زده کوونکي د میز لاندې کښیني او خپلې نانځکې د ټوټې له لاندې راباسي او غږیږي.
- (د برقي سامانونو کارتنونو په څېر) لوی کارتن مخ کې ځلور کنجه کړکئ ورکړئ، او "سټیج" دروازه شاته ورکړئ. یو یا دوه زده کوونکي په کارتن کې کینوئ تر څو خپله ډرامه/ تیاتر وړاندې کړي.
- یو بل ته مخامخ چوکئ کیږدئ، او له زده کوونکو وغواړئ مخامخ کیني او خپلې ډرامی اجرا کړي. دا نانځکی د ډرامی په مرکز یا زیرمه ځای کې وساتئ تر څو هر وخت چې اړتیا وي، لاسرسی ورته وشي.

بې نومه هلکه، د آدریس شاه لیکنه، د نتاشا دیلمر رسامي © ISHK, 2000

**أنور او د هوښيار سړي نانځکی (لاندينۍ لارښووونی وګورئ):** د أنور او/يا هوښيار سړي لپاره د سر، خولۍ، جامو، لاسونو، پښو، او بوټانو لپاره د بې نومه لپاره ورکړل شوی لارښووونی عملي کړئ. د أنور جامی کيدای شي مختلفی سينګار شي، لکه د فيتو پر ځليښولو يا بله طريقه. د هوښيار سړي چپنه د بې نومه له کميسه اوږده ده، نو ځکه يې وغځوئ او پرتوګونه يې لنډ کړئ. د نورو نانځکو په رسمولو او سينګارولو کې له خپل تخليقي فکرونو کار واخلئ.

**اختياري کسان/ لوبغاړي:** د بې نومه مور/پلار او نور، د کلي خلک، پيشو، د کلي نور ځناور.

**نور توکي:** د هوښيار سړي **"خوب/ نوم بکسه"** پرې کړئ. بکسه پر رنګه جوړښتي کاغذ، تاوونکي، رنګو او نورو سينګار کړئ. يا کوچني بکسونه د تاوونکي کاغذ، رنګه کاغذ، زري زياتولو، مشکښو، پتريو او نورو پر ځليښولو د "خوب/نوم خزانو" په څېر کړئ.

**لرګي/ لښتی برابرول:** د جوړښتي يا هنري کاغذ پر کارولو، ښکلي نومونه، پرپرکي، مرغۍ (يا نور "خوب" توکي يا لوبغاړي) چې د "نوم/ خوب له بکسو" الوزي، پرې او ځليښ کړئ. دا شکلونه پرې او پر کوچنۍ لښته يا پنسل يې ځليښ کړئ. لښته وخوځوئ تر څو دا والوزي (رسامۍ وګورئ).



"بې نومه"/ "حسني"






"أنور"





د پرې شوو او جوړ شوو لوبغاړو شاته لښته يا پنسل رابرټيپ کړئ او لږ لږ يې خوځوئ تر څو دوی له جادويي بکسونو "والوزي"



"هوښيار سړی"



له استعمال وړاندی نانځکی وچيدو ته پرېږدئ. ځيني وخت د ټينګولو او ثبات لپاره لږ إضافي ځليښو يا سټپلر سنجاق ته اړتيا وي. **ښه وخت ولرئ!**